// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان
AA-AA
چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم
www.afgazad.com afgazad@gmail.com
Ideological مسائل ایدئولوژیک

درویش وردک
۲۱ جنوری ۲۰۱۷

# دوه شپیتم مجلس(په توحیدکی)

## لسمه برخه

بزرگوارشیخ(رحمة الله علیه) وړاندی داسی وفرمایل: خدای پاک موسی علیه السلام مخاطب وګرزاوه اوویی فرمایل: (أنّی أصْطَفَیْتُکَ عَلی النَّاسِ بِرِسَالَتِی وَبِکَلامِی)-«ماته درسالت وسیله اودخطاب کولوطف،می پرخلکوغوره کړی. سوره اعراف آیه ۱۴۴».

ته می ځانته نیردی کړی، یوه ورځ تا رمه پووله، اویوه له هغی بیله شوه، هغه دی دنبال کړه، اودکړاواومشقت له تحمل وروسته هغی ته ورسیدی، هغه دی سینی ته رانیږدی کړه، او ورته ودی ویل، چی ولی دی زه اوځان ستړی کړ؟(دادحق دمهراوعنایت نبنانه ده)معصومین له هرلوری اوجانبه دحق په عنایت سره محفوظ(ساتلی) دی، ولی هغه څوک چی غواړی رستګاری ته ورسیږی، باید له دوه دریابونو څخه تیرشی، دحکم اوعلم له دریابونو، اودوی صحراوی شاه ته کړی، دخلق اونفس صحرا.

اولیاءالله داسی کسان دی چی شپه اوورځ نلری، خواړه یی دناروغانو دخوړو پشان(لږ) دی، خوب یی دغرق شویو په شان، وینایی یوازی دضرورت پروخت ده، هرچاچی خدای وپیژانده نوژبه یی لنده شوه،ولی کله که خدای اراده وفرمایی نوپه نطق یی راولی، منتهی پرته له اسبابه او وسیلی، اوپرته له علته، داسی چی دګوتی اشاری اوژبی ترمنځ توپیرنه وی، پردی ایسته کیږی اوقیدونه اوبندونه پرانیستل کیږی، عزل اوتولیت، اذن اواستئذان یوکیږی، دی حالت ته رسیدل اودهغی موندل دوجود له خونی راوتل، اودموجودیت په فناء سره حاصلیږی، اووروسته یی دنعمت باب ته وصول،اوپدی کلام سره ګویایی:( الحمد لله رب العلمین»،) اووقوف په درګاه د: (اِیَّاکَ نَعْبُدُوَاِیَّاکَ نَسْتَعِینُ) اود دیدار په محال (وَاسْجُدْوَاقْتَرِبْ)، او وروسته له دیداره، دخدای نعمتونه نوروته نسبت مه ورکوه، ته دالهی الطافو پروړاندی ناسپاسه یی، دشرک زنارله غاړی لیری کړه، خدای ته راوګرځه،په ځان اوزړه سره توبه وباسه ترڅوظاهراوباطن دی خدای ته نیږدی شی.

(ای دخدای بنده) پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) دنبوت په پیل کی په پټه سره دعوت کاوه، ترڅوورته خطاب وشو:( بَلِّغْ مَا اُنْزِلَ اِلَیْکَ مِنْ رَبِّکَ)-«هغه څه چی له خدایه پرتانازل شیو نوروته ورسوه. سوره مائده آیه ۶۷». اووروسته یی په علنی دعوت پیل وکړ، ولی ته چی هرڅه وینی فوراً یی افشاء کوی،دجاموبوجی پرانیزی اوپه خرڅلاویی پیل کوی(خپل افعال اواعمال دنورو پرمخ وړاندی کوی).

ځلورشیان دی چی دزړه صلاح په هغوی کی ده: اول خپلی ګولی(مړی) یونظرکول چی حلاله اویا حرامه ده، بل طاعت اوعبادت په اطمینان خاطرسره، دریم دوقارساتنه، ځلورم دهغو ترک کول چی له خدایه دی لیری کوی، ولی مړی ته کتنه باید په ورع اوپه ځیرسره ترسره شی، ځکه ددین دمبانی څخه یوهم دحلالی ډوډی خوړل دی، مومن دخوړو اوڅښوپه محال له کتاب اوسنت څخه متابعت کوی، هرڅه چی ددی دواړو دفرمان څخه خلاف وی ، له هغی لیری کیږی،اوخدای ته راګرځی، اوامر اونهیی یی اطاعت کوی،له ده څخه یاری غواړی، اومخکی له مرګه له خپل خدای سره تجدید تعهدکوی. ای جاهله، هرکله که دلاری دوره لیری شوه هغه وخت به پوه شی چی څه وایم: (**لتعلمن نباه بعد حین**)-«وروسته دهغی له خبره به آګاه شی. سوره ص. آیه ۸۸».

نفس خائن دی څرنګه یی په فتوی قانع کیږی؟ دهغی سره مبارزه وکړه چی مړشی(مقهورشی) بیا وروسته هغه راژوندی کړه ترڅو په خپل دوباره حیات کی په نفس مطمئنه ته ورسیږی، دشهوتونو اولذایذودروازی یی پرمخ وتړه، ترڅوکاملا مړژواندی شی.

قوم دشپی لخوا دخوب پروخت له اهل اوعیال سره مینه کوی، ترڅو ددوی دزحماتو له بارڅخه فراغت حاصل کړی، اوپه فراغت سره په خدای باندی بوخت شی. مخکی له سختیو څخه دخدای یاد وکړه، نه دبلا په محال، پوه شه چی پرته له خدایه دبلاو کاشف اودرنځونو دافع بل څوک نشته. دریښتینی مومن پروړاندی سود اوزیان ، عزت اوذلت، فقیری اوشتمنی یوشان دی.

(پوښتنه) ددی خبری معنی چی کتل یی درته ګټه نه رسوی، وعظ اواندرزیی درته مفید ندی ، څه ده؟ شیخ(رضی الله تعالی عنه)ځواب ورکړ: یوه ډله شته چی دنیا اوآخرت یی له نظره غورځولی، اویوازی لقاءالله ته متوجه دی، دوی که چاته وګوری نو کتل یی سراسرپند اواندرزدی اونافع اوګټور، ولی ریښتینی دخدای دوست چی ځمکی ته وګوری، پاک خدای هغی ته نوی ژوند وربښی اوشین کوی یی، اوکه یهودی اویانصرانی ته وګوری، خدای دده دکتوله برکته هغی ته هدایت کوی.(طبعا ددوی په مقابل کی داسی ډلکی هم شته چی نه یی کتنه اونه یی پند اواندرزچاته ګټه رسوی).

هرکله که بنده زهد ته مخه کړه اوله معاصیو لیری شو، خدای پاک به دقرب باب دده پرمخ پرانیزی اوځانته به یی رانیږدی کړی.

د(راستانو) قوم په زړه اوپه جوارحوپه وینا دی، له هغه څه نه چی دخدای لپاره ناوړه دی، لیروالی کوی، نوځکه دوی اتقیاء اوبزرګان دی، ولی هغه چی له خدایه لیری دی، معبود یی درهم اودیناردی، اوچی هرکله هغه له لاسه ورکړی نوقیامت جوړوی! اوحتی فرائض هم دهغولپاره خوشی کوی، بل معبود یی علاقه غیرله خدایه ده، مثلا: که دده فاسق زوی هم فوت شی، دجزع اوفزع سره مخ کیږی. ای هغوکسانو چی له حق اودین اودشرعی له آدابوڅخه لیری یاست، اودنیا اونفس ته مومخه کړی ده!ای کسانو چی خدای موهیرکړی، اودخلکو بندګی موغوره کړی، پوه شی چی په ناچاره به یوه ورځ دحق پروړاندی حاضرشی، پس همدانن دحق دلقار په طلب کی اوسی، دنیا اوخلق اونفس پریږدی، پوه شی هرڅه چی غیردخدای له ذکره دی، باطل دی، اوهرچاچی دباطل په معامله لاس پوری کړ، ریانکاره دی. ددنیا طالبان ډیردی، دآخرت طالبان لږدی اودحق طالبان دګوتوپه شمار. ته شپه اوورځ ددنیا په اندیښنه کی یی، آی غافله! خپله برخه له دنیا څخه دشرعی په لاسونو ترلاسه کړه، هغه څه چی شرعی درته رواکړی وغواړه، اوهغه څه چی یی منع کړی له هغی ډډه وکړه، په بیع اوداد اوستد کی اوپه خوړواوڅښاک کی په ځیره وګوره، هغه چی ستا حق دی له هغی ګټه واخله، اوهغه چی دنورو دی له هغی څخه پرهیزوکړه.

هرکله که دحق محبت په یوه زړه کی غلبه وموند‌ه، دینا اوآخرت ، عطا اومنع، رد اوقبول، اوخیراوشر به یی په نظریوشان شی، ځکه دحق حب داضدادوجمع ده. دمحب په سترګو ټول شیان محوه دی.، پرته دحق دعشق څخه، کله

دجلال په مشاهده کی دی اوکله هم په جمال باندی مفتون. هرڅومره چی نیږدی کیږی دشوق اوریی دموسی علیه السلام پشان نورهم ډیریږی هغه څه چی اوری(انی اناالله) دی، دغه ډول زړونو دقرب انوارلیدلی،اوهرڅومره چی نیږدی کیږی ، لیری کیږی( داشتیاق اوریی داسی سوزوی چی هرڅومره چی نیږدی دی ولی واصل شوی ندی، ډیرترډیره دلیری والی احساس کوی).( حتی یبلغ الکتاب اجله)-«ترتاکلی مودی چی راورسیږی»..ددرونی غوښتنوسره پریکړون اوله هوی اوهوس څخه تیریدل یی دوصول زمانه ده، پدی وخت کی دی چی طالب مطلوب ګرځی،قاصد مقصود ګرځی،اومرید په مراد باندی بدلیږی، دغه دحق له جذبی څخه یوه جذبه ده، چی کله خپل عبد وګوری چی دخپل وجود له خونی رابهرشوی اوخپل ځان یی له لاسه ورکړی، دشهواتو اوهیلو رشته یی قطع کړی، اوتل دفرایضو اونوافلوپه ترسره کولو کی کوشا دی، متعال خدای هم دی دخپل لطف په حجرکی هستوګن کوی.

ولی ای چی دناړداهل اعمال ترسره کوی، اودجنت اوفلاح په هیله یی، یوه شه چی دفلاح اورستګاری لاره دانده چی تا په مخکی نیولی ده.

یوه له بزرګانو څخه ویلی دی: (نفس له غوښتنوڅخه منع کړه، هیڅ ګوله پرته دخدای له اذن څخه مه خوره، هیڅ دارو پرته دخدای دامر(اوپه هغی پرته له توکل) مه خوره، ترڅو طبعت هغه څه چی دطب په کتابوکی مقررکړی، سازګاره شی.( وَهُوَيَتَوَلَّى الصَّالِحِيْنَ)-«هغه دصالحانوسرپرست اودوست دی». ددغه ډول کس طبیب دهغی محبوب دی، چی خوراک اوڅښاک یی هغه تعین کوی، په دی وخت کی شیخ(قدس سره) یواسویلی وکیښ پاڅیده اوښی اوکیڼ خواته یی نظروکړ،لاسونه یی دتسلیم په علامت پورته کړل، وروسته یی وفرمایل: واحریقا، وامصیبتا پرتاسو، بیا یی لاسونه په دعاپورته کړل، کښیناسته اوپرته چی یوه خبره وکړی، بیا ولاړ شو،اودڅیری مبارکی رنګ به یی کله سوراوکله ژیړشو.

زړه چی کله له دنیا څخه قطع علاقه وکړه ، دخدای میلمه کیږی، اونورپه دی اندیښنه کی ندی چی خدای څه شی پیداکړی اوڅه یی ندی پیداکړی، هغه ځای ته رسیږی چی هم محب دی اوهم محبوب، هم طالب دی اوهم مطلوب، هم ذاکردی اوهم مذکور، (په دواړو نړیوکی یی پرته له خدایه هیڅ ندی لیدلی«).

دآخرزمان دی، دنفاق اوځان غوښتنی زمانه ده، دکفراوناسپاسی زمانه ده. یوه شه چی عجب اوخودخواهی دی له خدایه لیری کوی،دده له هدایته دی لیری کوی. که ویوښتل شی چی دنفاق علامت څه دی ترڅوتری لیری شو؟ باید په ځواب کی دنبی کریم(صلی الله علیه وسلم) خبری ته مراجعه وکړو چی فرمایلی دی: (أَلْمُنَافِقُ أِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَ أِذَا حَدَثَ كَذِبَ وَاِذَا ئُتْمِنَ خَانَ)-«دمنافق نښانه داده چی کله وعده وکړی، دهغی خلاف کوی، په وینا کی صادق ندی، اوهرکله چی پری اعتماد وشی، خیانت کوی».

مومن چی ترڅو خپل ځای ونه پیژنی، اودباطن په سترګو خپل وضعیت اوموقعیت ونه ګوری، ددنیوی نعمتونو څخه استفاده نکوی اوآرام اوقرار اوامنیت نلری، دزړه الوتونکی یی دتفکرپه بیابان اوصحراکی په پلټنه بوخت وی، ترڅوله خپل عاقبت څخخه مطلع شی، ملائکی پدی حال کی دده سرګشتګی ګوری اوییوبل ته وایی، دغه فلانی دی، له محبوبینو اوصدیقینو څخه دی، ددی ډول مراتبوخاوند دی، اودقدرلاسونه هغه هری خواته هدایت کوی، مومن ددی مراحلو له طی کولو اوددی مقاماتو ترلاسه کولو وروسته ، یوړغ اوری چی ورته ویل کیږی: خپل کورته دی راوګرځه، اودغه ګنجینه چی دی موندلی وساته، خپل اسرار پټ وساته، زړه اوباطن ته ځیرشه،لاسونه دحکم اوعلم په کتاب ولګوه! ولی ته! چی ددی مقام په ترلاسه کولو پسی یی،څرنګه به په هغی لاس وومومی پداسی حال کی چی سرترپایه دنفس هوی نیولی یی، هرکله چی لمانځه ودریږی په خرید اوفروش(پیراوپلور) بوخت کیږی، پدی فکریی چی څه وخورم اوڅه وڅکم، ستا په اندرون کی هرڅه دی، پرته له لمانځه اودهغی دارکانو. پوښتنه وشوه چی داڅه

ډول بیماری ده؟ ځواب ورکړل شو: لومړی دحرامی اوشبهی مړی پاکول،دوهم له نفس سره مخالفت اودمعاصیو له ارتکاب څخه لیری والی.هرکله که دعبد زړه ددی فرامینو سره آشنا شواوپه هغوی یی عمل وکړ، قلق اوډاربه یی ورک شی،اودهغی په ځای به آرامش اوسکون ورته حاصل شی.

لویه خدایه، مونږ دخپلی پیژندنی پوسیله، له نورو څخه بی نیازه کړه، ځکه هرکله که بنده په حق سره استغنا وموندە نوربه دنورو دروازو ته مخ نه اړوی، اوکله چی دحق په قرب سره مستغنی شو، دشیطان دتیری توری چی هماغه په خلکو اتکاءده، په امان کی اوسی،لومړی زړه بیا غړی په صلاح راځی، یوسف علیه السلام به چی هرچاولید نوزړه به یی پری بایلود، ولی چی هغی بل محبوب درلود نو مخ به یی له نورپټاوه، اوچاته به یی اعتناء نه کوله.

**«وَیَالَیْتَ مَا بَیْنِی وَبَیْنِکَ عَامِرُ ----------- وَبَیْنِی وَبَیْنَ الْعَالَمِینَ خَرابُ»**

(دریغی هغه څه زما اوستا ترمنځ دی(زمونږاړیکه) تل آباده وی .... نورباک نشته که هغه څه وران شی چی زما اودنړیوالو ترمنځ دی).

(نوځکه) دحق منادی راورسیده اوپرخلق دتکیی بنسټ خراب شو.).

اسرار دقدرت په کښتی کی دعلم په دریاب کی په خوځښت دی (**بِسْمِ اللهِ مَجْراهَا وَمُرْسَاها**)-«دهغی جریان اوسکون دخدای په نامه اودده په فرمان دی».

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنة وفی الاخرة حسنة وقنا عذاب النار»آمین!**

نوربیا....